د افغانستان اسلامي امارت

# د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

## د دفتر عمومي ریاست

د افغانستان اسلامي امارت
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د دفتر عمومي ریاست
د صادري مهر : ۱۴۰۹ نېټه ۱۴۴۷/۳/۲۹

گڼه: نېټه: / /۱۴۰۴

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيم

**د مالیې محترم وزارت ته!**

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

**موضوع: د چارو اداري له محترم لوی ریاست سره ستاسې د محترم وزارت د ۱۴۴۶/۱۱/۱۹ نېټې د (۸۰۱۷) گڼې مکتوب د تعقیب په تړاو سپارښتنه**

ښاغلی محمد ادریس چې ځان د (۷) خصوصي شرکتونو (اناردره پټرولیم، افغان پټرولیم گروپ لمټېډ، اریا ترکمن گاز لمټېډ، پسران ایماق لمټېډ، ضیایي پټرولیم د نفتو وارداتي شرکت، سلیمان‌خېل گروپ لمټېډ او یما پټرولیم لمټېډ) استازی معرفي کوي د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت ته په کړې عرضپاڼه کې لیکلي چې ستاسې د محترم وزارت له خوا پر یادو شرکتونو د ترسره شوي بیرون‌نویسی په پایله کې تر(۳۶،۳۵۲،۶۹۹) افغانۍ اضافه گمرکي محصول غوښتل شوی دی.

د موضوع د څېړنې په موخه په ۱۴۴۷/۳/۱۵ نېټه د دې معاونیت د حقوقي چارو د ریاست په مشرۍ او ستاسې د محترم وزارت د گمرکونو د لوی ریاست مرستیال او د نوموړي ریاست د حقوقي چارو د رئیس په گډون ناسته ترسره شوه. له شته اسنادو څخه څرگندېږي چې له یادو شرکتونو څخه د اضافي محصول د اخیستو او نه اخیستو په برخه کې د عالي مقاماتو د احکامو ترمنځ ظاهري ټکر لیدل کېږي چې ستاسې محترم وزارت د ۱۴۴۶/۱۱/۱۹ نېټې د (۸۰۱۷) گڼې مکتوب په اساس د چارو اداري له محترم لوی ریاست څخه د نوموړې موضوع په اړه د لارښوونې غوښتنه هم کړې، خو د چارو محترمې ادارې تر اوسه پورې د ذکر شوي مکتوب د ځواب په اړه اجراات نه دي ترسره کړي.

په دې اساس ستاسې محترم وزارت ته سپارښتنه کېږي چې د چارو ادارې له محترم لوی ریاست سره مو د ۱۴۴۶/۱۱/۱۹ نېټې (۸۰۱۷) گڼه مکتوب تعقیب کړئ، څو د موضوع په اړه د عالي مقاماتو هدایت ترلاسه او په رڼا کې یې نوموړې ستونزه حل شي.

والسلام

**ډېره مننه**

**مولوي عبدالله عزام**

**د ریاست الوزراء د اقتصادي معاونیت**

**د مقام د دفتر عمومي رئیس**

کاپي:

د پلان، پالیسی او حقوقي چارو محترم ریاست

Address: Sedarat Marmarin Palace - Malik Asghar Square - Kabul – Afghanistan پته: صدارت - مرمرینه ماڼی - د ملک اصغر څلور لاری - کابل - افغانستان

Contact number: 0202105504 د اړیکې شمېره: 0202105504